# امن به کله راځي

محمد یوسف ساحل کوټه پښتونخوا

زړۀ مې وچ شو په ګوګل کښې
ژړوي مــــې دا مرګونــــه
چــې بــه امــن کلــه راشــي
چــې بــه امــن کلــه راشــي

د حــــالاتو بــــد بختي ده
هــره شــپه پــه وینــو ســره ده
علاقــه پــه وینــو ســره ده
هم شپونکے په وینو رنګ دے
هــم رمــه پــه وینــو ســره ده
سپین کفن په وینو سور دے
جنــازه پــه وینــو ســره ده
هم جومات په وینو رنګ دے
هم کوخه په وینو سره ده
زما څادر په وینو سور دے
ستا سینه په وینو سره ده
هــره خــوا د مــاتم شــور دے
مېخانــه پــه وینــو ســره ده
زړۀ مې وچ شو په ګوګل کښې
ژړوي مــــې دا مرګونــــه
چــې بــه امــن کلــه راشــي
چــې بــه امــن کلــه راشــي

وور ماشوم په وینو سور دے
کتابچــه پــه وینــو ســره ده
هم مطرب په وینو سور دے
هــم نغمــه پــه وینــو ســره ده
د ژوند جام دلته نسکور دے
زمانــه پــه وینــو ســره ده
بنګــړي ټــول پــه وینو سرۀ دي
لوپټــه پــه وینــو ســره ده
نن مو پت په وینو سور دے
پښــتنه پــه وینــو ســره ده
د تــاریخ ظلــم تــه ګــوره
مېلمنــه پــه وینــو ســره ده
هم غانټول په وینو سور دے
هــم غنچــه پــه وینــو ســره ده
د چا لاس پــه وینــو ســور دے
د چا پښــه پــه وینــو ســره ده

هم وادۀ پــه وینــو ســور دے
هــم جرګــه پــه وینــو ســره ده
ارغنداؤ پــه وینــو ســور دے

ســره جامعــه پــه وینــو ســره ده
اباسین پــه وینــو رنــګ دے
تــاتره پــه وینــو ســره ده
هندوکش په وینو سور دے
اکــوړه پــه وینــو ســره ده
ننګرهــار پــه وینــو ســور دے
چارســده پــه وینــو ســره ده
کابــل ټــول په وینو رنګ دے
خېرخانــه پــه وینــو ســره ده
خېبــر رنــګ د وینــو واخســت
در دره پــــه وینو ســــره ده
شال تنګي په وینو سور دے
شــالدره پــه وینــو ســره ده
ساحل هم په کښې لوګے شو
دا ډېــوه پــه وینــو ســره ده
زړۀ مې وچ شو په ګوګل کښې
ژړوي مــــې دا مرګونــــه
چــې بــه امــن کلــه راشــي
چــې بــه امــن کلــه راشــي